لیکونه



سر لیکونه

حبیب الله رفیع



لیکونه

سر لیکونه

حبیب الله رفیع
۱۳۷۵

د کتاب نوم : لیکونه سرلیکونه
لیکونکی : حبیب الله رفیع
ترتیبوونکی : ن. احمد کرور
کمپوز-ډیزاین : آسیاسافټ
د چاپ کال : ۱۹۹۶/۱۳۷۵

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

[۱]

ليك دبشرپۀ تاريخ كښې يو داسې ايجاد دی چې ورسره دبشر تاريخي دوره پيل شوې ده او ليك. دنړی تر تاريخ وړاندې او تاريخي دورې ترمنځ بيلوونكې كرښه ده.

دليك له ايجاد سره بشر وكړای شول چې خپلې تجربې ورپسې نسلونو ته ولېږدوي، خپل افكار او اندېښنې ورته پۀ ميراث پرېږدي اوددې پۀ وسيله دبشر اوبشريت ارتقاء پيل شي.

ليك دانسانانو پيغامونه دنړی له يوه ګوټ نه بل ګوټ ته ورسول او سره ليرې پراته انسانان يې ديو بل له غوښتنو او هيلونه خبر كړل او پۀ دې وسيله ليك زماني اومكاني پولې رنګې كړې او انسانيت يې د ډله ايزې ارتقاء

او ودې لورته سوق کړ.

انسان دليك په٠ وسيله وکړای شول چې هم دخپل عصر اوهم د راتلونکو عصرونو اونسلونو له انسانانو سره دزړه٠ خواله٠ وکړي، دخپل چاپېر ځضع ورته روښانه کړي، د پرمختك په٠ ځور خپل تم ځای او دم ځای ورته په٠ نخښه کړي، خپلې ناترسره شوې غوښتنې ورته بيان کړي او دپاتې لارې مزل کولو ته يې وهڅوي.دليك تر پيدايښت وروسته انسان دېر څه٠ پيدا کړل او دليك له برکته يې دېر اختراعات اواکتشافات وکړل اودېر برښناييز (الکټريکي) وسايل يې رامنځ ته کړل خو بيا هم دا ټول وسايل تش وسايل وو اوليك داصلي هدف په٠ حيث خپل ارزښت اواهميت خوندي کړ.

د خط له پيدايښت سره يوځای ليك ليکل هم پيل شوي او يو چا بل چا ته دخپل زړه٠ خبرې دليك په٠ وسيله ليکلې او تر لرې-لرې ځايونو پورې لېږل شوې او رسېدلې دي. دېرې شخصي چارې، ملي چارې، بين المللي چارې،سياسي چارې، اجتماعي چارې او نور کړه٠ ورړه٠ ليکونو حل کړي اوليکونو خوندي کړي دي او تر اوسه يې ارزښت پرځای دی.

[۲]

زمونږ په٠ ګران هېواد افغانستان کښې په٠ عنعنوي توګه د ليك بڼودلو يوه جالبه طريقه له سوونو کلونو راهيسې راروانه ده، تکړه ميرزايانو به٠ د کاغذ پر ټوټو راز-راز سرليکونه ليکل، بيابه٠ يې دا دکاغذ ټوټې پرله پسې سره سرښې کړې او ان دوه دری متره اوږده پانه٠ به٠ تړې جوړه٠ شوه، د پاڼې يو سر او بل سر به٠ يې د پاڼې تر سور نه په اوږدو تورړل شويو لرګيو په٠ سرښې کلك سريښ کړ، بيا به٠ يې ټول کاغذ تر لاندينې لرګي تاو کړ، شاګرد ته به٠ يې وسپارۀ، هغۀ به٠ د لومړي سرليك برخه له لرګي نه راخلاصه کړه مخې ته به٠ يې کښېښوده او دا ليك به٠ يې بيا-بيا وليکه او بڼه٠ به٠ يې پوخ کړ، دا

سرليك بهٔ چې پوخ شو تر برني لرګي بهٔ يې تاو کړ او له لاندې خوا نه بهٔ يې بل سرليك راخلاص کړ او دا بهٔ يې پوخ کړ، پهٔ دې ترتيب بهٔ يو په بل پسې تول سرليکونه پاخهٔ شول او له يوه شاګرد نه بهٔ ميرزا جوړ شو او بيا بهٔ يې اداري کارونه کول.

دې کاغذ ته بهٔ ملاطفه ويل کېده او له ژوند سره اړوند تول سرليکونه بهٔ پکښې وو، ملاطفې بهٔ يې تر همدې لرګو تاو ساتلې او پهٔ ليك لوستو کورنيو کښې بهٔ پهٔ ميراث پاتې کېدلې.

[۳]

پهٔ هېواد کښې د عصري زده کړو له پيل نه دښوونې او روزنې يو لوی هدف ديوه هلك ياجينې لوستي کيدل او پهٔ خپلو ژبو کښې ليك او لوست زده کول دي، زمونږ پهٔ هېواد کښې لومړنۍ زده کړې تر شپږم تولګي پورې اجباري دي او دښوونې او روزنې متخصصين غواړي چې دلومړنيو زده کړو سرته رسوونکی ماشوم بايد پهٔ خپل راتلونکي ژوند کښې دخپل عادي ليك اولوست اړتيا وې ترسره کړي.

مورِ د ۱۳۶۹ کال پهٔ تله کښې دافغانستان د راتلونکې ښوونې او روزنې پهٔ برخه کښې دجهاد دثقافتي شورا له خوا يو سيمينار درلود، دسيمينار پهٔ موضوعاتو کښې يوه هم له شپږم تولګي نه وتلي هلك يا جينې دلازمې سويې درلودلو موضوع وه اوپهٔ کډه هيله ښکاره شوه چې: "داجباري دورې ماشوم دې:

- د اسلام د سپېڅلي دين په اساساتو او احکامو تر دې حده پوه وي

چې په خپله مسلمانولی وویاړي؛

- دخپلې عقیدې، دین او هېواد دښمن وپېژني اوکرکه ترې ولري؛
- خپل ځان، خپل خدای اوخپل خلك وپېژني:
- ځیك او ټوسټ یې تردې حده زده وي چې خپل مطلب پکښې ادا کړای شي:
- د اسلام اوهېواد له تاریخ نه تر یوۀ حده خبروي؛
- دخپل هېواد ټوی شخصیتونه باید وپېژني او دنړی له ټولیو شخصیتونو څخه څۀ ناڅۀ خبروي:
- دهېواد او ګاونډیانو له جغرافیې نه خبروي؛
- ساده ریاضي دې زده کړې وي؛
- دساینس ساده عملیې دې زده وي:
- دکار له وسایلو او ابزارونه دې استفاده وکړای شي؛
- د روغتیا پۀ برخه کښې دې لومړني معلومات ولري؛

- او په پاې کښې دې د اجباري دورې ښوونه اوروزنه یو مسلمان. افغان او هېوادپال کس ټولنې ته وړاندې کړي".
(ددې سیمینار دجریان کتاب، دمنشي رپوټ، ٤٥٩-٤٦٠ مخونه).

[٤]

په دې هیلو کښې یوه داوه چې : " لیك اولوست یې دې تردې حده زده وي چې خپل مطلب پکښې ادا کړای شي".

ما د همدې هیلې په نظر کښې نیولو سره دلیکونو دا مجموعه ترتیب کړه او د ژوند دټولو معاملو. چارو او اړخونو په باب ساده لیکونه او مطلب ادا کوونکې لیکنې لري او مادهمدې هیلې په نظر کښې ساتلو سره ټولې لیکنې په ساده او روانه ژبه کړې او هم مې د عصر دا اړتیا په نظر کښې ده چې دا لیکونه د پخوا په شان اوږده او له تمهیدي خبرو ډك نه نیکل کېږي، بلکه ضروري خبرې پکښې راځي اوله بې ځایه اوږدولونه ډډه پکښې کېږي.

هسې په پښتو کښې پوره زر کاله راهیسې یو بل ته د نیك نیکنو او لیك لـــېږلو سلسله را پیل شوې او مور د لیکونو ګڼې منظومې او منثورې نمونې لرو؛ ماغوښتل چې ددې لیکونو په پای کښې د پښتو د تاریخي لیکونو ځینې نمونې هم ورکړم، خو ځرنګه چې په هغو ټولو کښې څه ناڅه پېچلتیا وه ځکه ترې تېر شوم، البته کې، کله مو د لوړې سویې لیکونه لیکل بیا به یې راوړل په ځای وي. ماهڅه کړې چې د ژوند د هر ضروري اړخ په باب رقعې. عریضې. نیکونه،سندونه، خبرونې او نور راشي خو بیا هم کې څه پاتې وي هیله ده نوستونکي مې وبخښي او د بل چاپ له پاره مې ددې اثر نیمګړتیاؤ ته متوجه کړي.

دليکونو تر راوړلو وړاندې مې دليکنخښنو پۀ باب هم لنډ معلومات وړاندې کړي او د پښنو دمتفقه ليکدود (دلرواوبرو پښتنو ليکوالو) پريکړې مې هم يادې کړې چې يو ماشوم وکړای شي دليك اصولو اوليك دود معيار هم زده کړي او د کتاب ټول متن د همدې ليکدود په بنا ليکل شوی دی.

هيله ٮرم چې دا کوچنی اثر دا لوی هدف چې مورږ يې دخپلو نسلونو دپوهنې پۀ ګټه پسوللو له پاره ٮرو، تر سره کړای شي.

پۀ مينه

ح. رفيع

۷٤/۱۱/۱۲

شپږم

B
3·512
RAF
6020
ф.1

ددې کتاب په باب

د افغانستان د ښوونې او روزنې ماهرین عقیده لري چې: "له شپږم ټولګي نه وتلی یو شخص باید تردې حده پۀ لیك او لوست پوه وي چې خپل مطلب پکښې ادا کړای شي."

ما د همدې هیلې په نظر کښې نیولو سره د لیکونو دا مجموعه تیاره کړه او د ژوند د ضروري معاملو، چارو او اړخونو په باب ساده لیکونه او مطلب اداکوونکې لیکنې لري او ما د همدې هیلې په نظر کښې ساتلو سره ټولې لیکنې په ساده او روانه ژبه کړې او هم مې د عصر دا اړتیا پۀ نظر کښې ده چې دا لیکونه د پښتو پۀ شان اوږده او له تمهیدي خبرو ډك نۀ لیکل کیږي، بلکه ضروري خبرې پکښې راځي او له بې ځایه اوږدولو نه ډډه پکښې کیږي.

ما هڅه کړې چې د ژوند د هر ضروري اړخ په باب رقعې، عریضې، لیکونه، سندونه، خبرونې، او نور پکښې راشي او هم مې لیکنځښې او د پښتو د متفقه لیکدود پربکړې پکښې راوړې او د کتاب ټول متن د همدې لیکدود په رڼا کښې لیکل شوی دی.

ح. رفیع

PRINTING IS
FINANCED BY
EUROPEAN COMMISSION

دا کتاب د اروپائی ټولنې په مالي مکښت چاپ شوی دی
چاپ این کتاب توسط جامعۀ اروپا تمویل گردیده است
کمیتۀ سویدن برای افغانستان (S C A)

تعداد چاپ : ۵۰۰۰

PROPERTY OF
ACKU
6020

فهرست

عنوان . . . . . مخ

لیکنخښې ۱

د پښتو متفقه لیکدود ۱۳

رقعې ۱۹

ځانې لیکونه ۲۹

غوښتنلیکونه ۴۳

رسمي لیکونه ۵۳

بلن لیکونه ٦۵

خبرونې ۷۵

سندونه ۷۶

کاروباري لیکونه ۹۳

{لیکنخبنی}

ليکنخښې

پۀ ننني زمانه کښې ليک نخښې همدومره ارزښت لري لکه ليک توري يې چې لري ځکه دليکنخښو پۀ نۀ راوړلو سره پۀ ليکنه کښې کډوډي راځي او د ليکنخښو غلط استعمال تردې هم خطرناک وي اوحتی کله - کله موضوع سرچپه کوي نوپۀ دې اساس ليکنخښو ته بايد ډېر دقيق واوسو او تر ليکلو وړاندې ښۀ ورسره بلد شو .

۱- "ټکی" (.):

الف﴾ دجملې پۀ پای کښې راځي او يو مطلب سرته رسوي، لکه:

"دا ډېر ښۀ کتاب دی."

ب﴾ تر لنډيزونو وروسته راځي لکه:

م.م.م. (دملګرو ملتونو مؤسسه).

۲- "سوالیه" (؟):

الف﴾ دا نخښه د پوښتنو پۀ پای کښې راځي لکه:

"ولې ناوخته راغلې؟"

ب﴾ د شك ښودلو پۀ وخت کښې راځي لکه:

"د بايزيدروښان دمرينې کال (۹۸۰ هـ ق) (؟) ښودل شوی دی."

۳- "ندائيه" (!):

الف﴾ دندائيې نخښه دخطابي جملې پۀ پای کښې راځي لکه:

"تاته وايم !"

ب﴾ دحيرانۍ اوتعجب پۀ حالت کښې ليکله کېږي لکه:

"اوهو، څۀ ښکلی ګل دی!"

ج﴾ کله چې تعجب د پوښتنې وړ وي او يا د تمسخر وړ وي نو بيا سواليه او ندائيه دواړه دجملې پۀ پای کښې راځي، لکه:

"آه، څومره ظلم؟!"

۴- "کامه" (،):

الف﴾ د جملې دوې ياڅو فقرې (برخې) سره ښلوې لکه:

"زه چې کانال نه تلم، لاړه حوانه وه"

ب﴾ د معترضه جملې يوې اوښلی حواته راځي لکه:

"زما کتاب، چې دېر وخت يې در سره وتلی، راولېږه!"

ليکونه سرليکونه ٤

ج﴾ دکلمو د پرله پسې عطف پۀ وخت کښې د عطف د "او" پرځای راځي لکه:

"ماخپل: کتاب، قلم، کاغذ اوبکس راواخیستل."

د﴾ پۀ یوه کلمه کښې چې دکامې ځای بدلول معنوي تغییر راولي، راځي؛ لکه:

"زما سورګل، خوښ دی." او "زما سور،ګل خوښ دی."

چې دواړه سره بېل مفهومونه لري.

۵ - "تکیکامه" (:):

دا پۀ اوږدو جملو کښې داوږدو فقرو د بېلولو له پاره راځي یعني ترکامې یې ساحه لویه او ترتکي وړه ده؛ لکه داجمله:

"ژمی چې د واورو له امله، لارې بندې شي؛ له یوه ځای نه بل ځای ته، پۀ تلو راتلو کښې خنډونه پیښ شي؛ دلرې دوستانو له حاله خبرېدل، سخت شي."

٦- "شارحه"(:):

الف﴾ د یوې یادې شوې موضوع یا کلمې نه وروسته دهغې د شرح کولو له پاره راځي، لکه:

"خوشحال خان ختک دا لاندې منظوم او منثور آثار لیکلي: فضلنامه، دستارنامه،

فراقنامه، طبنامه، اخلاقنامه، بازنامه، ساعت نامه، زنځيرې، فالنامه، ديوان او نور..."

ب﴾ د يوه کتبي يا شفاهي قول (خبرې) تر نقلو لو وړاندې راځي؛ لکه:

"پښتانه متل کوي: خپله ژبه هم کلا ده هم بلا."

ج﴾ دکلمو ترمعنی اوتشريح کولو وړاندې راځي، لکه:

"لور: طرف، د لو کولو آله."

۷- "کرښې" (-):

الف﴾ د معترضه جملې - چې د کلام په منځ کښې وي - په سراوپای کښې راځي، لکه:

"زهٔ نن - سره له دې چې ډېر مصروف وم - ستاليدلو ته راغلم!"

خو کله چې معترضه جمله د کلام په پای کښې وي نو بيايوازې دجملې په سرکښې راځي، لکه:

"رحمان بابا په زړهٔ پورې تصوفي اشعارلري -چې ټول پښتانه يې په مينه لولي."

ب﴾ د ډرامې يا داستان په خبرو کښې د خبرو کوونکو د نومونو د تکرار د مخنيوي له پاره دنوم تر يوځل اخيستل کېدو، کرښې (-) د نامه پرځای اېښودل کېږي، لکه:

"مـــور: زویه! چېرته ځې؟
بریالی: بازارته!
ــ دځه له پاره؟
ــ کورته سودا راوړم!"

ج) په ځینې ځایونو کې د "له، تر، پورې" د کلمو پرځای راځي او په کلمه کښې په زړۀ پورې لنډون راولي. لکه:
"رحمان بابا (۱۰۴۲-۱۱۲۸ هـ ق) د پښتو لوی شاعر دی."
چې دا جمله په حقیقت کښې داسې ده:
"رحمان بابا چې له ۱۰۴۲ کال نه تر ۱۱۲۸ هجري قمري کال پورې يې ژوند کړی، دپښتو لوی شاعردی."

یا:

"دکابل - کندهار لویه لار تر ترمیم لاندې ده."
چې مطلب يې دادی:
"له کابل نه تر کندهاره پورې لویه..."

د) کله چې په یوه کړنه کښې کلمه نیمګړې پاتې کېږي اوبلې کړنې ته ځي د نښلولو په خاطر راځي لکه:

"د افغانستان داطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا څو کاله وړاندې د پښتو آریانادایرة-المعارف پۀ اووتوکونو کښې چاپ شوی دی.".

خو دا کار د انګریزي او نورو اروپایي ژبو پۀ تقلید کېږي او پۀ پښتو کښې دېر دود نۀ دی.

هـ) له دوو کلمو څخه د مرکبې اصطلاح له پاره راځي، لکه:

"انساني-اسلامي اخلاق د چا د سپکاوي اجازه نۀ ورکوي.".

۸- "لیندی" (ـــ):

الف) دتشریحي، توصیفي او تسهیلي هد فونو له پاره راځي، لکه:

"استاد حبیبي (دهېواد لوی مؤرخ) د مشروطیت پر غورځنګ دېر مهم کتاب لیکلی دی."

یا، لکه:

"وګړېوهنه (انټرپالوجي) یوه ارزښتمنه رشته ده."

ب) عددونه او نیتې پۀ لیندیو کښې نیول کېږي، لکه:

"احمدشاه بابا (۱۱۳۵ -۱۱۸٦ هـ ق) یو عالم

او ادیب پاچا ؤ."

یا:

"د افغانستان د ننني تاریخ د یوهٔ ټوک بیه (۵۰۰)افغاني ده.".

ج﴾ پرله پسې شمېرنې چې پهٔ عدد، یاالفبې یا تورو شوې وي هم د لیندیو تر منځ راځي؛ لکه:

"ما نن دا لاندې څیزونه واخیستل: (۱) قلم، (۲) رنګ، (۳) کاغذ.".

ددې پرځای (الف)، (ب)،(ج) هم لیکلای شو او پهٔ تورو (لومړی)، (دوهم) او (دریم) هم لیکلای شو."

کهٔ دا اجزاء دکرښې له سرنه لیکل غواړو، د لیندی یوازې د پاینخښه -)- هم لیکلای شو، لکه:

داکتاب دری برخې لري:

۱) لیک نخښې.

۲) لیک دود.

۳) دلیکونو نمونې.

دې عددونو ته د لیندی د پاینخښې پرځای کرښی (-) هم لیکلای شو، لکه:

له دې کتاب نه زمور هدفونه دادي:

لومړی - زده کوونکو ته لیک دود ورښودل.

دوهم - دلیک لیکلو چل ورزده کول.

د) په خبرنيزو کتابونو کښې د پايليك (حاشيو) شمېره د ليندیو تر منځ راځي.

۹- "ليندکی ("__"):

الف) د بل چا رااخيستل شوی مطلب يا وينا د ليندکيو ترمنځ ليکله کېږي. لکه:

استاد په مې تل راته ويل: "د کتاب په تصحيح کښې له غور او خير نه کار اخله!".

ب) خاص نومونه، عنوانونه او مشخصې کلمې په ليندکيو کښې راځي. لکه:

"افلاطون" د "سقراط" په باب په خپل "کريتون" کښې په زړه پورې معلومات راوړي دي.

ج) کهٔ کله په يوه نقل شوې خبره کښې بل نقل راشي هغه به بيا په کامو کښې راولو، لکه:

بريالي وويل: "زهٔ ستاسو په کار کښې کار نهٔ لرم، پښتانهٔ وايي چې:. نهٔ کار هلته څهٔ کار؟..".

۱۰- "دری ټکي" (...):

دری ټکي معمولاً له يوې ليکنې نه د کم شويو مطالبو پرځای راځي او کهٔ د پراګراف په پای کښې راشي نو بيا

دجملې دختمېدو ټکی هم پرې ورزیاتېږي او څلور کېږي، لکه:

"پۀ افغانستان کښې هرراز میوې لکه: انار، انګور، منې، ...: هر راز غلې لکه: غنم، جوار، چنې،... کېږي او زیات تاریخي ځایونه لري لکه: هډه، هرات، بامیان او نور...".

همداراز یو شمیر نورې نخښې هم شته لکه ولاړې لیندی [ ]، ستوری * تر کلمې یا مطلب لاندې خط ایستل او دا‌سې نور چې پۀ لوړه او عالي املاء کښې پۀ کاربړي، یا ډېره لږه اړه ورته پیدا کېږي، نو ځکه دلته ترې تېرېږو.

د پښتو

متفقه

لیکدود

د پښتو متفقه لیکدود

لکه د نورو ژبو په شان د وخت د غوښتنو له مخې پښتو لیکدود هم وخت په وخت بدلونو نه لیدلي او په نتیجه کښې یوه معیار ته رارسیدلی دی، د ۱۹۹۰ کال په جولای کښې د پېښور پښتو اکېډمۍ د پښتو لیکدود دیو کولو له پاره یو سیمینار جوړ کړ، چې تر ډېره حده د پښتو معیاري لیکدود پکښې ومنل شو او ځینې هغه کلمې او توري چې سره بیل لیکل کېدل یو ډول شول چې دلته یې په لنډیز لیکو:

۱- "ې" به د"ر" په بڼه نه لیکل کیږي.

۲- هغه کلمې چې په پای کښې زور لري د زور د نخښې پرځای به "ه" ورکوله کیږي.

۳- د پښتو په خپلو کلمو کښې به د مدالف (آ) نه راځي لکه: اس به آس نه لیکل کیږي.

۴- مخصوصه (ې) يا سپکه (ې) بهٔ دوه لاندې باندې ټکي لري، لکه:

ډېر، زېری، هېر، شمېر، کېدل، ببل، شپې، تودې، سړې، اوږدې او داسې نور.

۵- معروفې (ي) ته بهٔ دوه څنګ پر څنګ ټکي ورکوي لکه:

يو، يار، ليك، ځاني، غوړي، سړي او داسې نور.

٦- د تأنيث (ی) به پهٔ کش ليکله کېږي، لکه:

خولی، ځوکی، ډوډی، وړی او داسې نور.

۷- فعلي ثقيله (ئ) بهٔ همزه لري لکه:

خورئ څښئ حساب مه منئ!

۸- ضمير بهٔ د "يې" پهٔ بنه ليکل کېږي، لکه:

بنه کار يې وکړ.

۹- د زورکي بنکارندويه (ه) بهٔ دپاسه همزه (ۀ) ولري، لکه:

زړهٔ (قلب) چې له زورلرونکې "زړه" (پخوانی - مؤنث) سره يې توپير وشي، لکه:

"زما زړهٔ زړه خبره نهٔ منې".

۱۰- کاف بهٔ پهٔ کړی (ك) ليکل کېږي نهٔ پهٔ کش (گ).

۱۱- کښې، کښېناستل، بخښل، نخښه، کښېښودل او داسې نور بۀ
پۀ همدې ډول لیکل کېږي، نه:
کې، کېناستل، ببنل، ننبه او کېښودل.

۱۲- معدوله واو بۀ له کلمو نه نۀ غورځول کېږي، لکه:
خولۀ، خوله، غوندې، کوندې، ګوند.

۱۳- پښتو پېښې لرونکې کلمې بۀ پۀ مجهول واو لیکل کېږي، لکه:
پوښتنه، پوهنه، اور، اوبۀ، اوړۀ او نور.

۱۴- معروف واو بۀ له کلمو څخه نۀ غورځول کېږي، لکه:
زرغون بۀ زرغـُن نۀ لیکو.

۱۵- د پښتو خاص توري لکه "څ، ځ، ښ، ږ" بۀ پۀ خپل -خپل
ځای لیکل کېږي، لکه:
څوك (کې) بۀ سوك (مشت) نۀ لیکل کېږي او داسې
نور.

۶۱- دافغانستان ملینه "(ی) یابې ټکیو ی" بۀ (چې په متفقه
لیکدود کښې پۀ مجهوله ی بلل شوې)؛ پۀ افغانستان
اوبلوچستان کښې پۀ همهغه ډول (ی) لیکله کېږي خو پۀ
صوبه سرحد کښې بۀ له دود سره سم (ے) پۀ اوږده بڼه

لیکله کېږي او په دې دول په دې پریکړو کښې دا یوازینی توری په اختلافی توګه پاتې شو!.

۱۷. پښتو ته‌دعربي او نورو ژبو هغه راغلي توري چې معنی یې نۀ وي بدله شوې په همغه بڼه لیکل کېږي لکه: قلم، علم، کاغذ او نور...

یادونه: په دې کتابکي کښې د معیاري لیکدود خیال ساتل شوی او دمتفقه لیکدود پرېکړې پکښې عملي شوې چې ګران لوستونکي یې په عملي او تطبیقي دول زده کولای شي.

رقعي

﴿۱﴾

نېټه ۱۳۷۴/۱۲/۱۲

د محمد هوتك دلومړني ښوونځي محترم سرښوونکی صاحب،

السلام علیکم!

زمازوی خالد جان چې ستاسو دښوونځي د دوهم ټولګي زده کوونکی دی، د ورپېښې شوې ناروغۍ له امله نن خپلو درسونو ته نۀ شي حاضرېدلای هیله ده ناسوب ونۀ ګڼل شي.

پۀ درناوي

(لاسلیك)

محمد ایوب

(دخالد جان پلار)

PROPERTY OF ACKU

﴿۲﴾

نيټه:۱۳۷۴/۱۱/۱

دنازوانا دلومړني ښوونځي درنې سرښوونکې صاحبې،
السلام علیکم!

زما لور بربښنا چې ستاسو د ښوونځي د دریم ټولګي زده کوونکې ده د خپلې مور د ناروغۍ له امله ښوونځي ته نۀ شي درتللای، هیله ده رخصت وګڼله شي.

پۀ درناوي

(لاسلیک)
عبدالکریم
(د بربښنا جانې پلار)

﴿۳﴾

نیټه:۱۳۷۵/۱/۲۱

دملالي لیسې محترمې مدیرې صاحبې،
السلام علیکم!

نن زما د ورور وادۀ دی، زۀ دمپلمنو پۀ خدمت بوخته یم

اونشم کولای چې نبوونځي ته درشم ، هیله لرم رخصت وبلله شم!

په درناوي

(لاسلیک)

خاطره

(دپنځم "د" ټولګي زده کوونکې)

﴿۴﴾

نیټه: ۱۳۷۴/۲/۱

دغازي لبسې محترم مدیر صاحب،

السلام علیکم!

زهٔ د هغې سختې ناروغۍ له امله چې له تېرې شپې راهیسې راپېښه شوې نهٔ شم کولای خپلو درسونو ته درشم، هیله لرم چې ناسوب ونهٔ ګڼل شم!

په درناوي

PROPERTY OF ACKU

(لاسلیک)

خلیل الله

(دشپږم"ب" ټولګي زده کوونکی)

﴿٥﴾

نیټه:۱۳۷۴/۱۲/۲۱

د هېواد د نشراتي مؤسسې محترم رئیس صاحب،
السلام علیکم!

ماسږ کال تفریحي رخصت نۀ دی اخیستی اوس غواړم چې کندهار ته ولاړشم، هیله ده شل ورځې تفریحي رخصت راکړل شي!

پۀ درناوي

(لاسلیک)
جمال الدین جلال
د هېواد د اعلانونو دځانګې غړی

﴿٦﴾

نیټه: ۱۳۷۵/۱/۲۸

دافغانستان بانک محترم رئیس صاحب،
السلام علیکم!

زما نیا د سختې ناروغۍ له امله پۀ جمهوریت روغتون کښې بستر شوې او د پښتورګو عملیات یې کېږي، زۀ باید هلته حاضر

واوسم، هيله کوم چې دری ورځې ضروري رخصت راکړل شي!
په درناوي

(لاسليك)
وکيل احمد
(خزانه دار)

نيټه: ۷۵/۱/۵

د مامورينو محترم مدير صاحب!
السلام عليكم!

نن ضروري کار لرم خپلې وظيفې ته نۀ شم رسېدلی. هيله ده زما عذر ومنئ او رخصت وبلل شم!
په درناوي

(لاسليك)
محمد خان

(دآمر کتنه):
وکتل شو!
د حاضرۍ خانکې ته دې داصولي معاملې له پاره ولېږل شي!

(لاسليك)
خوشحال خان
د مامورينو مدير

نیټه: ۷۵/۱/۵

د مالیې وزارت، محترم اداري رئیس صاحب!
السلام علیکم!

پوره یوولس میاشتې کېږي چې په پرله پسې توګه د اداري چارو په ترسره کولو بوخت یم او د کال تفریحي رخصت مې نه دی اخیستی، هیله لرم (۱۵) ورځې رخصت راکړل شي، چې سترپا مې په هوسایی بدله او د تفریحي رخصت د قانوني استحقاق نه ګټه واخلم!

په درناوي

(لاسلیك)

آدم خان

(د منظوری امر):

وکتل شو!

د مامورینو مدیریت دې د مربوطه اداري په موافقه د استحقاق په صورت کښې نوموړی رخصت وبولي او (۱۵) ورځې تفریحي رخصت یې منظور دی.

(لاسلیك)

۷۵/۱/۵

﴿۹﴾

د اوږدې ناروغۍ رخصت پانه

عارض: عبدالاحد د محب الله خان زوی.

نیټه: ۷۵/۲/۶

د کانو اوصنایعو دوزارت محترم اداري رئیس صاحب!
السلام علیکم!

د څو ورځو راهیسې ناروغ یم، صحي معاینات مې وکړل، د ډاکټرانو له لارښوونې سره سم لازم دي خپله اساسي تداوي وکړم، هیله ده د خپلې تداوۍ په غرض رخصت راکړل شي.

په درناوي

(لاسلیك)

(د مقام امر)
وکتل شو!
نوموړي ته دې دناروغۍ استحقاقي رخصتي ورکړه شي او د رخصتۍ د اوږدېدو په صورت کښې دې د ډاکټر تصدیق راوړي!

(لاسلیك)

۷۵/۲/۶

ئەحانی لیکۆنە

﴿۱۰﴾

د پلار په نامه لیك

نیټه: ۱۳۷۵/۲/۲

درنه پلاره خپل د زړۀ له کومي سلامونه او احترامونه وړاندې کوم!

ستاسو، دخپلې درنې مور. دخپلې ګرانې خور او د خپل خواږه وړوکي ورور نوراحمد جان روغتیا اوخوښي دلوی خدای ﷻ له دربار څخه غواړم!

زۀ د خدای ﷻ په فضل رڼ روغ یم، لیك مې ځکه وځنډېدۀ چې د شپږ میاشتنی ازموینې پۀ ورکولو بوخت وم، ازموینه نښه تېره شوه، هیله لرم نښې نومرې تر لاسه کړم!

زما له خوا ډاډه اوسئ!

په درنښت

(لاسلیك)

ستاسو زوی حمیدالله

❁❁❁❁

﴿۱۱﴾

پلارته بل لیك

نیټه: ۱۳۷۴/۳/۱۶

کرانه پلاره،
سلامونه مې ومنئ!

تاسو ته باید خبر درکړم چې زموږ کلنۍ رخصتي له راتلونکې چهارشنبې څخه پیلیږي، ماپۀ تاریخ کښې لومړۍ درجه او پۀ ریاضي کښې دوهمه درجه نومرې اخیستې او سربیره پردې پۀ خط کښې مې یوه ارزښتناکه جایزه تر لاسه کړې ده.

زما یوۀ ټولګیوال بلنه راکړې چې لښکرګاه ته یو لنډ شاني سفر ورسره وکړم نو کۀ تاسو اجازه راکړئ دا سفر بهٔ زما لپاره ډېر پۀ زړۀ پورې وي، ځکه هلته بۀ د هېواد تاریخي آثارو ګورم!

ستاسو ځواب ته سترګې پۀ لاریم!

په درنښت

(لاسلیك)

ستاسو منونکی زوی اجمل

❁❁❁❁❁❁❁

﴿۱۲﴾

د پلار خوابي ليك

نيټه: ۱۳۷۴/۳/۲۰

کرانه زويه، خوشحاله اوسې!
السلام عليکم!

د غبرګولي د شپږمې نيټې ليک دې راورسېد، ستا بريو خوښ کړم، مبارکي درکوم او زيات بريالیتوبونه دې غواړم!

زهٔ دا نصيحت درته کوم چې شپه ورځ پهٔ خپلو درسونو تېروه او خپل ګران بيه وخت بې ځايه مه ضايع کوه، هيله لرم چې پهٔ راتلونکي کال کښې ستا پهٔ باب لاښهٔ زېري واورم!

د لښکرګاه د سفر پهٔ باب ستا وړاندیز نهٔ ردوم او اجازه درکوم خو پهٔ دې شرط چې له ښهٔ ملګري سره وې او تر دوو (۲) اوونيو زيات وخت تېر نهٔ کړې!

پهٔ خداي دې سپارم

ستاپلار

﴿۱۳﴾

مور ته ليك

خوست: ۷۵/٦/۵

ګراني موري،
سلامونه مې ومنه!

هيله ده چې له ماماخيلو کره بۀ دې وخت سۀ تېرېږي، ستا نشتوالی مې ډېر ځوروي. تاسو ته ډاډ درکوم چې هره ورځ پۀ خپل وخت سوونځي ته ځم او هڅه کوم چې سبقونه مې سۀ زده کړم او پرماويار وکړای شې!

پۀ ډېره مينه

ستازوی ګلك

❁❁❁❁❁❁

﴿۱۴﴾

د مور ځوابي ليك

کندوز: ۷۵/٦/۱۰

ګرانه زويه، درځارشم!
السلام عليكم!

د ليك په راتلو مې دې سترګې روښانه شوې، ډېره خوشحاله يم چې ته ښه يې او د ښوونځي په درسونو کښې زيار باسې!

ستاله ماما، خپلې مور، وربرونو او وربرو سره ښې ورځې شپې تېروم، دوی ټول دپخوا په شان راباندې مهربانه دي، زۀ هڅه کوم چې په لنډو شپو ورځو کښې کور ته درشم او ستا ښايسته مخ ښکل کړم!

په مينه

(لاسليك)

ستا مور

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿١٥﴾

ورور ته ليك

ګرانه وروره،

السلام عليكم!

٧٥/٢/٦

له مينې او معلوماتو ډك ليك دې راورسېد، د کور له حال او احوال نه خبر شوم، دا چې ازموينه دې په بريالیتوب تېره کړې خوښ شوم، ګرانه کۀ اوس په خپلو درسونو کښې زيار ونۀ باسې بيا بۀ په ټپسه او پوهنتون کښې د پرمختك او بريالیتوب چانس ډېر لږ ولرې، همدا لومړنۍ زده کړه ده چې د لوړو زده کړو بنسټ

---

٣٥ ځاني ليکونه

جوړوي او د انسان د علمي سويې د لوړولو له پاره د پوړيو او لارې کار ورکوي.

زمور درسونه ډېر درانه دي ځکه چې ټول مضمونونه اختصاصي، د انجنيرۍ د بېلا بېلو ارخونو پۀ باب ليکل شوي او له مشکلو تخنيکي اصطلاحاتو څخه ډک دي. همدا راز هر يو درسي مضمون د نورو مرستيالو کتابونو مطالعې ته اړه لري له همدې امله زمور ورځ پۀ ټولګي کښې د درس پۀ ويلو تېربرې او د درس له وخت نه بهر د پوهنتون کتابتون ته ځو او هغه کتابونه چې استاد رانبودلي يا زمور له درس سره نېغه اړه لري مطالعه کوو او پۀ دې ترتيب مور مجبور يو چې شپه او ورځ درس ووايو خو له نېکه مرغه د پوهنتون فضاء د درس ويلو له پاره ښه برابره ده، پۀ ليليه کښې د اوسېدو له پاره شرايط ډېر ښۀ دي او مور کولای شو چې پۀ بشپړ فکري تمرکز پۀ خپلو درسونو بوخت واوسو!

زماله خوابخي خاطر جمع اوسه!

پۀ مينه

(لاسليک)

ستاورور

انځرګل

(د انجنيري پوهنځي د دوهم ټولګي محصل)

٧٥ ٧/٥

ملګري ته ليک

ګرانه ملګريه، ښې هيلې او د زړۀ پېرزويني مې ومنه!

تۀ څۀ پوهېږې چې ستا د ليک ډاتللو، چې پۀ ډېره بې صبرۍ ورته سترګې پۀ لارووم، څومره خوشحاله کړم!

زۀ او مور مې ډېر خوښ شوو چې تاسو بشپړه روغتيا تر لاسه کړې ده، مورِ ستا د ناروغۍ دخبر پۀ اوريدو ډېر خوابدي شوې او د احوال راتلوته بېخي بې صبره او تلولي وو. هيله کوو چې نور بۀ دخپلې روغتيا خيال ساتئ اوخپل دوستان بۀ نۀ غمجن کوئ!

تاسو بايد دځو اوونيو له پاره دلتۀ راشئ، هوابدله کړئ، پۀ کندهار کښې اوس هوا ډېره ښه او پاکه ده او ستاسو روغتيا ته ښه ګټه رسولای شي، کۀ راځئ نو دخپل راتلګ پۀ وخت مو ژر ترژره خبر کړئ او مورِ بۀ ډېر خوښ وو چې پۀ دې وخت کښې پۀ خپل کور کښې ستاسو خدمت وکړای شو.

پۀ درنښت

لاسليک

ستاخواخورۍ،

اصيل خان

﴿۱۷﴾

ملګري ته ليک

۷۵/۴/۲

ګراني پلوشې، سلامونه مې ومنه!

زهٔ نهٔ پوهيږم چې ولې دې ماته ليک رالیږل بند کړي دي؟ آيا له مانه خپه ياست؟ ياخدایﷻ مه کړه ناروغي درته پېښه ده؟

تاسو ته مې تر اوسه دری ليکونه درليږلي خو د يوه ځواب هم نهٔ دی راغلی. کهٔ تهٔ داسې کوې نو بيا زهٔ هم خپه کيږم، هيله ده ددې ليک په در رسېدو ژرتر ژره ځواب راولیږئ!

پهٔ مينه

ستاخور

تلوسه

❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۱۸﴾

ځوابی ليک

۷۵/۴/۴

ګراني تلوسې خورې،

زهٔ خپل غرونه غرونه سلامونه درته وړاندې کوم!

ستا د ليک د ځواب نهٔ درليږلو خپه کړې يې، هيله

کوم چې ما وبخښې؛ کۀ څۀ هم ډاډ درکوم چې پۀ دې کښې زما بېخې ګناه نه وه، زۀ د کلنیو ازموینو پۀ اخیستلو بوخته وم او تاته مې د لیک لیکلو یوه دقیقه وخت هم ونۀ موندلای شو، خاطر بۀ نۀ درنوې!

لاسلیک

ستاملګرې

پلوشه

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۱۹﴾

مبارکي

۱۳۷۵/۱/۲۰

ګرانه هاشم جانه!

السلام علیکم!

ماته همدااوس هغه لیک چې ستا د وادۀ خبرې درلود راورسید؛ زۀ سمدلاسه خپلې رښتینې مبارکۍ او د زړۀ له کومې ښې هیلې درته وړاندې کوم، له لوی خدای ﷻ نه هیله کوم چې د وادۀ هر کال دې تر تېر شوي کال خوشحاله وویني!

ګرانه هاشمه!

زۀ د زړۀ له تله وایم چې ﷻ دې تااو ستا ناوې له خپلو

ډېرو سترو نعمتونو نه برخمن کړي!

ستاسو خواخوږی

زلمی

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۲۰﴾

مبارکي

نېټه: ۱۳۷۵/۲/۵

زمامنلی او ګرانه وروره. ښاغلی روشندل خانه!
السلام علیکم!

له رادیو څخه مې واوربدل او پۀ اخبارونو کښې مې ولوستل چې تاسې پۀ کلنیو ترفیعاتو کښې لومړی رتبې ته ترفیع کړې، ستاسو پۀ ترفیع دېر خوښ شوم.

دادي تر هغه پورې چې پۀ خپله درشم ددې لیک پۀ ذریعه خپلې مبارکی درته وړاندې کوم او زیاته لورتیا او بری دې غواړم!

(لاسلیک)

ستا ورور

سمیع الله

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

لیکونه سرلیکونه

﴿۲۱﴾

ځوابلیك

نیټه: ۷۵/۲/۷

ګرانه وروره، سمیع الله جانه!
السلام علیکم!

ستاسو د مینې اومحبت څرګندوی د مبارکۍ لیك راورسید، ستاسو له مهربانۍ او د ښو احساساتو له ښکارولو څخه دزړهٔ له کومې مننه کوم، او ستاد تودې مینې او خوږې ملګرتیا د دوام پهٔ هیله خپل سلامونه درلیږم!

درانه اوسئ!

پهٔ مینه

(لاسلیك)

ستاسو ورور روشندل

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۲۲﴾

منن لیك

کابل: ۷۴/۱۲/۲۵

ګرانه ملګریه، سلامونه!

ماته اوس - اوس ستا رالیږلې د پیسو حواله (مني آرډر) راورسیده او پهٔ دې وسیله درارسیدو ډاډ درکوم!

د زړۀ له کومې ستاسو ممنون یم چې ماته مو زماله خوا دغوښتل شویو پیسو پۀ رالیږلو له ماسره ډیر لاس کړی دی، زۀ بۀ ستاسو دا لوړینه هیڅکله هیره نه کړم، دا یو لوی کار ؤ چې تاسو راته وکړ.

بیا- بیا خپلې مننې وړاندې کوم

(لاسلیک)

ستاسو دوست

میوند

غونښتليکونه

عريضې

﴿۲۳﴾

د ليليې لپاره غوښتنليك

نيټه: ۷۴/۱۲/۵

دابن سينا دنښوونځي محترم مدير صاحب،
السلام عليكم!

ماترشپږم ټولګي پوري دکندهار پۀ محمود هوتکي نښوونځي کښې زده کړې کړې، دنښوونځي اداري دپوهنې دمديريت له لارې له خپلو څونورو ټولګيوالو سره کابل ته راليږلی او ابن سينا نښوونځي ته د نورو زده کړو له پاره معرفي کړی يم، هيله ده امر راکړئ چې تر هرڅۀ وړاندې د ابن سينا پۀ ليليه کښې ځای راکړل شي څو د شپې تيرولو او د خوراك څښاك له ستونځو څخه ووزم!

پۀ درناوي

(لاسليك)

نورالله اځکزی

(دابن سينا نښوونځي نوی زده کوونکی)

﴿۲۴﴾

د پوهنتون د شمولیت لپاره غوښتنلیك

۷۵،۱،۵

دننګرهار پوهنتون ښاغلی رئیس صاحب!
السلام علیکم!

زهٔ امان الله دغلام رسول خان زوی دکامې د مرادعلي صاحبزاده له لېسې نه پهٔ ۱۳۷۴ کال کښې فارغ شوی یم؛ اوس غواړم چې دپوهنتون د کانکور پهٔ ازموینه کښې شامل شم له تاسو څخه هیله لرم چې ماته د کانکور پهٔ ازموینه کښې برخه راکړئ.

پهٔ درناوي
(لاسلیك)
امان الله

﴿۲۵﴾

د کار غوښتنليک

عارض: بريالی د عبدالحکيم خان زوی

نيټه: ۱۳۷۵/۵/۵

د پوهنې وزارت، د استخدام محترم رئيس صاحب!
السلام عليکم!

زهٔ چې دحبيبيې لښې د دوولسم ټولګي فارغ التحصيل يم د معلمۍ له درانه مسلک سره د زړهٔ له کومې مينه لرم، نوهيله ده چې په کوم ښوونځي کښې د معلمۍ ويار راوبخښل شي.

په درناوي

(لاسليک)

(نوم)

(د مقام امر)

وکتل شو!

دمامورينو مديريت دې نومورې دکمبود پرځای مقرر کړي!

(لاسليک)

۷۵/۵/۵

﴿٢٦﴾

عارض: محمد شفيق دانصاري لپسې زده کوونکی:

نيټه: ١٣٧٥/٣/١٣

د بيهقي کتاب خپرولو مؤسسې، محترم رئيس صاحب!
السلام عليکم!

په اخبار کښې مې ستاسو دا اعلان چې دښوونځيو زده کوونکو او دپوهنتون محصلينو ته په ددوی داړوندو ادارو دتصديق له مخې خپل چاپ کړي او را وارد کړي کتابونه په نيمه بيه ورکوئ، ولوست: دډير پرې خوښ شوم او دادي دخپل ښوونځي دتصديق په ملتياد خپلې اړتيا وړ کتابونو لست وړاندې کوم، هيله ده له خپلې ژمنې سره سم په داکتابونه په ټيټه بيه راکړئ.

په درناوي

(لاسليك)

(اجراآت)

دعارض غوښتنليك وکتل شو!

دښوونځي تصديق دې داسنادو په کتاب کښې خوندي او نومورې ته دې ددهٔ د اړتيا وړ کتابونه په نيمه بيه ورکړل شي.

(لاسليك)

(دبيهقي کتاب خپرولو مؤسسې رئيس)

١٣٧٥/٣/١٣

عارض: خيرالله. ډيوهنې وزارت مامور:

نيټه: ۷۴/۱۲/۲۵

د کابل ښاروالي. محترم ښاروال صاحب!
السلام عليکم!

په اخبارونو کښې ستاسو له خوا دځرخي پله د ارزان بيه پروژې د کورونو د ځمکو وېشلو اعلان خپور شوی دی، زهٔ له لسو کلونو راهيسې په کابل کښې اوسېږم. ډيوهنې وزارت ماموريم حو تر اوسه خپل کورنهٔ لرم اوپهٔ کرايي کور کښې ژوند کوم، هيله ده ماته ديوه لومړني مستحق په توګه يوه نومره ځمکه راکړئ!

په درناوي

لاسليک

(نوم)

(د مقام امر)

وکتل شو!

د کور جوړولو رياست دې دعارض عرض ترقانوني غور لاندې ونيسي!

لاسليک:

(د کابل ښاروال)

۷۴/۱۲/۲۶

(اجراآت)

د کورونو ويشلو آمريت دې عارض د مستحقينو په لست کښې

---

۴۹ غوښتنليکونه

ونيسي او د پچې اچولو انتظار دې وباسي

(لاسليك)

(د کورجوړولو رئيس)

۷۴/۱۲/۲۶

﴿۲۸﴾

(خبرتيا)

نېټه: ۷۵/۲/۲۲

ښاغلی خيرالله خان دپوهنې وزارت مامور!

تاسو چې کابل ښاروالي ته زمونږ په نوې پروژه کښې دکور دځمکې له پاره عريضه ورکړې وه، دمستحقينو په لومړی پچه اچولو کښې مونوم راوتلی او ددې پروژې د لومړی برخې (۲۷۳) نومره ځمکه مو په نامه وتلې ده، په دې وسيله خبر درکول کېږي چې ژرتر ژره ښاروالي ته مراجعه وکړئ او د ټاکليو پيسو په تحويلولو سره دخپل ملکيت سند تر لاسه کړئ!

(لاسليك)

(نوم)

د کورونو د وېشلو آمر

﴿۲۹﴾

د معاش غوښتنليك

عارض : ګل محمد دجان محمد زوی

نيټه: ۱۳۷۵/٦/٦

داطلاعاتو اوکلتور وزارت،

محترم اداري رئيس صاحب!

السلام عليكم!

زهٔ د فرهنګ د رياست د فولکلور دڅانګې شپږمه رتبه مامور چې د وزارت دمقام په امر د ټاکلي هيأت په ګډون خدمتي وم، د زمري دمياشتې معاش مې نهٔ دی اخيستی، هيله ده دمعاش څانګې ته امر ورکړئ چې زما معاش زما په نوم حواله او اجراء کړي.

په درناوي

(لاسليك)

(نوم)

(د مقام امر)

وکتل شو!

مربوطه څانګه دې داستحقاق په صورت کښې دنومورې معاش اجراء کړي.

(لاسليك)

۷۵/۶/۶

د مامورینو محترم مدیریت دې د حاضرۍ له مخې داصولي
اجراء دپاره معلومات راکړي!

(لاسلیک)
۷۵۶۶

(تصدیق)

نومورۍ د حاضرۍ په دفتر کښې (۲۵) ورځې خدمتي معامله
شوی دی په پورته ډول معلومات درکړل شول.

(لاسلیک)
۷۵۶۲

د حوالي خانکه

پنځه زره اوشپږ سوه (۵۶۰۰) افغانۍ د زمریاد میاشتې د معاش له بابته
دښاغلي بریالي په نامه حواله شوې.

(لاسلیک)

(دلاسلیک تصدیق)

د ښاغلي بریالي پورتنی لاسلیک تصدیق شو!

(لاسلیک)

رسمي
ليکونه

﴿۳۰﴾

پوښتنليك

د تهيې محترم مدير صاحب.

السلام عليكم!

د اداري اجراآتو له پاره مياشتنى قرطاسيې ته اړتيا لرو ، كۀ پۀ تحويلخانه كښې لاندينې شيان لرئ نو معلومات راكړئ چې داصولي مقبوض پۀ در لېږلو واخيستل شي.

(لاسليك)

(لست) ۱۳۷۵/۱/۵

﴿۳۱﴾

(جواب)

دمحاسبې محترم مدير صاحب!

السلام عليكم!

دغه شيان دمخه خريداري شوي، پۀ تحويلخانه كښې موجود دي، پۀ اصولي مقبوض يې اخيستلى شئ!

(لاسليك)

۷۵/۱/۵

---

۵۵ رسمي ليكونه

﴿۳۲﴾

خوښی لیک

نیټه: ۱۳۷۴ /۷/۵

ښاغلی قاسم خان دملي بس مامور!
السلام علیکم!

تاسې چې خپله درسپارل شوې دنده په ایمانداری، او صداقت تر سره کړې دترانسپورټ وزارت ددې لیک په وسیله له تاسونه خوښي څرګندوي اولازیات بري موغواړي!

لاسلیک،
(دنده)

﴿۳۳﴾

تعقیبي لیک

نیټه: ۱۳۷۵/۲/۸

د پښتني تجارتي بانک،
د میرویس میدان دځانګې محترم مدیرصاحب!
السلام علیکم!

د خپل (٦٢٨)١/٣/٧٥ نومره ليك پۀ تعقيب درليكو چې دموضوع پۀ باره كښې له خپلې اجراء څخه ډاډ راكړئ!

پۀ درناوي

(لاسليك)

(دنده)

﴿٣٤﴾

خبر ليك

نيټۀ: ١٣٧٥/٢/٨

د سپين زر شركت نماينده،
شاغلی محمد يونس خان،
السلام عليكم!

دری ميليونه (٣،٠٠٠،٠٠٠)افغانۍ د امام صاحب ولسوالۍ تۀ د بانك پۀ ذريعه در وليږلې شوې، څرنګه چې بزګران پۀ دې ورځو كښې پيسو ته اړوي، د پنبې كرونكو ته د لست له مخې پيسې د مخه وركړئ او د پنبې د رسېدو د وخت پۀ نرخ پنبه تړې واخلئ، نورې پيسې بۀ هم پۀ خپل وخت در وليږلې شي.

پۀ درناوي

(لاسليك)

د سپينزر شركت رئيس
كندز

د سپين زر شرکت رئيس ته ځواب

نيټه: ۱۳۷۵/۲/۱۸

د سپين زر شرکت محترم رئيس صاحب،
السلام عليکم!

سږ کال سره له دې چې پنبه زياته ده خو اخيستونکي نغدې پيسې پۀ لاس پسې ګرځي، د دې مليونو راليږلو شوو افغانيو پنبه مې پۀ ښه نرخ اخيستې.

هيله ده همدو مره نورې پيسې هم راوليږئ!

پۀ درناوي

(لاسليک)

محمد يونس

د سپين زر نماينده

امام صاحب، کندز

غوښتنليک

نيټه: ۱۳۷۵/۳/۱۸

د سپين زر شرکت محترم رئيس صاحب!

ليکونه سرليکونه ۵۸

السلام عليكم!

د روژې د مبارکې میاشتې د رارسېدو له امله هر څوک غوړیو ته زیاته اړتیا لري. څومره چې امکان وي د سپین زر، زیات غوړي راولیږئ چې د خلکو له مراجعې سره سم له دې اړخه د دوی د اړتیا پۀ پوره کولو کښې مرسته وشي.

پۀ درناوي

(لاسلیك)

زرین ګل

د سپین زر نماینده

کابل

﴿۳۷﴾

پۀ کابل کښې د سپین زر شرکت نماینده ته ځواب

بناغلی زرین ګل خان!

د سپین زر شرکت نماینده

کابل

السلام علیکم!

ستاسو د ۱۳۷۵/۳/۱۸ نیټې (۲۷۵) نومره لیك له مخې دادي پنځه سوه تیمه غوړي درولیږل شول، کۀ پۀ وېشلو کښې یې هڅه وکړئ چې اصلي مستحقینو ته ورسېږي، باور دی چې د ټولو اړتیا

رفع او ضرورت پوره کېدلی شي.

پۀ درناوي

(لاسلیك)

د سپینزر شرکت رئیس

کندز

﴿۳۸﴾

امري لیك

نیټه: ۱۳۷۴/۵/۱۲

د بورې د انحصار محترم، رئیس صاحب!

السلام علیکم!

لکه چې لیدل کېږي پۀ دې وختونو کښې بورې ته اړتیا زیاته ده خو بوره پۀ مغازو کښې لږ تر لاسه کېږي پۀ داسې حال کښې چې له بهر نه اخیستل شوې بوره پۀ زیاته پیمانه رارسېدلې ده، له دې امله اړوندو مغازو ته پۀ زیاته اندازه بوره ورکړئ چې هر څوك يې بې له قید او شرطه پۀ ټاکلي نرخ واخیستلی شي.

پۀ درناوي

(لاسلیك)

خوازك

دسوداګرۍ د وزارت معین

لیکونه سرلیکونه،

﴿۳۹﴾

د سوداګرۍ وزارت ته ځواب

نیټه:۱۳۷۴/۵/۱۵

د سوداګرۍ وزارت، محترم معین صاحب ته په درنښت!

السلام علیکم!

ستاسو د وارداتو د ریاست د ۷۴/۵/۱۲ نیټې، (۱۳۰۱) نومره لیک له مخې د شار هرې مغازې ته اتیازره (۸۰۰۰۰) بورۍ بوره او پنځوس زره (۵۰۰۰۰) پاکټه خښتي قند ورکړای شو چې هر چاته دهغوی د غوښتنې په اندازه بوره او قند ورکړي، له خپلو اجراآتو څخه په دې وسیله ډاډ درکوو.

په درناوي

(لاسلیک)

ن. ر. ځاځی

د دولتي انحصاراتو د بورې د وېش آمر

﴿۴۰﴾

داعلان پانه

د افغانستان رادیو د اعلانونو لوی مدیریت ته په درنښت،

السلام علیکم!

ددې لیك مل یوه پاڼه د مناقصې اعلان درولېږل شو، اړوندې څانګې ته بۀ هدایت ورکړئ چې دمابنام له خوایې داعلانونو پۀ پروګرام کښې دری شپې پرله پسې نشر کړي، داعلان دحق النشر پیسې بۀ داعلان له دروړونکي څخه نغدې واخلئ او سند بۀ ورکړئ!

پۀ درناوي

(لاسلیك)

مطیع الله

د خریداری مدیر

د مالیې وزارت

﴿۴۱﴾

تلګرافي خبرلیك

د پښتني تجارتي بانك ریاست، کابل

نیټه: ۱۳۷۴/۷/۵

بناغلي ګل مرجان!

د پښتني تجارتي بانك نماینده، پېښور

د قره قل پوستکو او د غالیو د نرخ پۀ باره کښې معلومات راکړئ!

﴿۴۲﴾

د پښتني تجارتي بانك نماينده، پېښور

نيټه: ۱۳۷۴/۷/۵

د پښتني تجارتي بانك محترم رئيس صاحب، كابل!

د قره قل او غاليو بازاربنۀ تود دی‌او زيات اخيستونكي لري.

﴿۴۳﴾

د مقرری ليك

نيټه: ۷۵/۵/٦

ديبهقي دلومړني ښوونځي، محترم مديرصاحب!

السلام عليكم!

ښاغلی بريالی دعبدالحكيم خان زوی چې دحبيبيې لېسې د دوولسم ټولګي فارغ التحصيل دی ديبهقي ښوونځي د ښوونكي پۀ حيث پۀ (۱۰) رتبه بست كښې د واكمن مقام پۀ منظوری، مقرر شوی، تاسې ته پۀ دې ليك در وپېژندل شو چې پۀ ياد شوي بست كښې يې خپل مقرر ښوونكی وبولئ اوكارتړې واخلئ!

(لاسليك)

دپوهنې وزارت د استخدام رئيس


بلنليكوته

﴿۴۴﴾

دميلاد النبيﷺ لمانځن غونډې ته د رابللو ليك

بښاغلی .....،

السلام عليكم !

د افكارو د روزنې رياست د لومړۍ خور په ۱۲ نيټه د دوشنبې په ورځ چې د روان كال دغبرګولي له لسمې نيټې سره سمون خوري داسلام دسپيڅلي پيغمبر حضرت محمدﷺ د ميلاد مبارکه ورځ ديوې غونډې په ترڅ کښې لمانځي او درانۀ عالمان بۀ دآنحضرت پرسپيڅلي سيرت او رسالت خبرې کوي او نعت خوانان بۀ دعقيدت پيرزويني وړاندې کوي.

هيله ده په دې سپيڅلي غونډه کښې بۀ په ګډون کولو سره د اجراوثواب ترلاسه کولو هڅه وکړئ!

په درناوي

(لاسليك)

دافكارو د روزنې رئيس

ځای: د كابل پوهنتون لوی تالار.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۴۵﴾

كنفرانس ته د رابللو ليك

بښاغلی .....،

السلام عليكم !

دحبيبيې لپسې زده کوونکي دروان کال، د۱۰ پۀ ۱۰ نيټۀ، د پنجشنبې پۀ ورځ د ماسپښين پۀ ۲ بجو له ټولنې نه د نشو د لغنت ورکولو پۀ منظور يو کنفرانس کوي چې پردې موضوع بۀ وينا-کانې اوشعرونه اورول کېږي، هيله ده تاسو پۀ دې غونډه کښې ګډون وکړئ او د خپلې وينا پۀ کولو سره له دې لوی لغنت سره مبارزې ته ګران هيوادوال راوبولئ!

پۀ درناوي

(لاسليك)

(نوم)

دکنفرانس رئيس

ځاي : دليسې دکنفرانسونو تالار.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

د ټوم ایښودلو مجلس ته د رابللو لیک

ښاغلی.....،

السلام علیکم!

زما د ورور محمدآصف خان کره دنوي کال دغوړیدو په هر-کلي کښې د نوم ایښودلو یوه غونډه د روان کال د لمړۍ په ۱۶ نیټه دسهار په لسو بجو جوړوو، هیله ده په دې غونډه کښې به په ګډون کولو سره زمونږ مجلس لانور هم درووند کړئ!

په درناوی

(لاسلیک)

محمد عارف

پته:.....

د قرآن کریم ختم ته د رابللو لیك

د لوی او بخښونکي خدای ﷻ په نامه

دخپل اروانباد پلار ارواته د ثواب لېږلو له پاره سبا د ﷺ په لسمه نیټه د سهار له ۱۰ څخه تر۱۲ بجو پورې زمور په کور کښې د قرآن کریم ختم کېږي، هیله ده په دې سپېڅلي مجلس کښې به د ګډون کولو ثواب وکټئ!

په درناوي

پته :خوشال مینه، سپلو ته مخامخ سړك، داروانباد جلال الدین خان کور

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

د واده بلنه

ښاغلی/ښاغلي .....(او کورنی)،
السلام علیکم!

هیله ده زما د زوی خوشال خان د واده په خوښۍ کښې
په کډون کولو سره ویاړ راوبخښئ!

په درناوي
آدم خان

ورځ : د ۱۳۵۷ کال دلوی ۵ نیټه
وخت: دغرمي ۱۲ بجې
ځای :۲۰کور، ۱۵ کوڅه، وزیراکبرخان مینه، کابل

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۴۹﴾

د واده دوهم بلنليك

بلنه

د ميرزي او خوشدل کورنۍ غواړي د ډاکټر بريالي او پيغلې زرغونې د واده جشن ولمانځي، نو له ښاغلي/ښاغلې.....(او کورنۍ)، څخه هيله کوو چې دخوښۍ په دې خوږو شيبو کښې له موږ سره برخه واخلي او زموږ خوښي يو په دوه کړي.

بلونکي:

ورځ : دوشنبه ۲۰

وخت: دمانښام ۷ بجې

ځای : سپينغر هوټل، جلال آباد

.....

.....

﴿٥٠﴾

غونډې ته بلنه

ښاغلی/ښاغلې .....،
السلام علیکم !

افغان ادبی بهیر دهېواد دلوی لیکوال، ادیب اومفکر ارواښاد استاد کل پاچاالفت پۀ یاد دلغمان د عزیزخان پۀ کڅ کښې ددوی پر زیارت باندې د روان کال دلسمې پۀ ۳۰ نیټه یوه درنه مشاعره کوي، مورِ ستاسو راتلوته سترګې پۀ لاریو!

پۀ مینه
بلونکي:
د ټولنې مشر او ملګري
❁❁❁❁❁❁❁❁❁

خبروني

اعلانونه

﴿۵۱﴾

د استخدام اعلان

د کندهار دمېوې شرکت یوه دوولسم پاس زلمي ته چې په لیکلو کښې چټک او دمحاسبې په کار کښې تجربه کار وي، اړتیا لري؛ څوک چې علاقه لري لازمه ده خپله پېژند پاڼه د لیک سره یوځای په کندهار ښار کښې دشرکت مرکزي دفتر ته راولېږي.

❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۵۲﴾

د بې درکۍ اعلان

لس کلن ماشوم، مرجان دکل جان زوی چې د خمنا حرې جامې یې اغوستې او توړې پېښورۍ څپلۍ یې په پښو دي، عنم رنګه څېره، تور وېښته او خرڅې سترګې لري، په پښتو ژبه خبرې کوي؛ د روان کال د حمل په لومړۍ نیټه له خپل کور ناصر باغ نه بې درکه شوی، کله چا نومورۍ ماشوم لیدلی یا موندلی وي په بورډ کښې دې د نبي درملتون مالك ته وسپاري.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۵۳﴾

د ورکې اعلان

د کابل ولایت دپغمان د اولسوالۍ اوسېدونکی د شریف الله د زوی حسن جان، ۸۲۲ نومره تجارتي جواز ورک شوی، کۀ چا موندلی وي پۀ میوندوات کښې دې د لمردرملتون مالك ته وسپاري اوپنځه زره (۵۰۰۰) افغانۍ شیریني دې واخلي!

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿۵۴﴾

د مړینې اعلان

ریدی ګل پلار، شاد محمد او پیر محمد وروڼه، جلال الدین تره، امیر حمزه د تره زوی، جمال خان ماما او ګل ملا د ترور زوی، د کرنې وزارت د مامور عین الله د مړینې له کبله دوستانو ته خبر ورکول کېږي، چې جنازه نن دیګر پۀ لسمه ټیټه دغرمې پۀ ۱۲ بجو پۀ میرویس میدان کښې د دوی له کوره اخیستله کېږي او دعلي آباد پۀ هدیره کښې خاوروته سپارله کیږي - فاتحه سباوبل سبا د یکشنبې او دوشنبې پۀ ورځو د سهار له ۸ څخه دغرمې تر۱۲ بجو پورې د نوي ښار پۀ جامع جومات کښې او د ښځو فاتحه پۀ همدې ورځو تر غرمې وروسته ددوی پۀ کور کښې اخیستله کېږي.

❁❁❁❁❁❁❁❁

سندونه

﴿۵۵﴾

وکالتلیک

نېټه: ۷۵/۱/۳

ددې لیک په وسیله زه صدیق الله د عتیق الله خان زوی د کابل د شهوه کیو اوسېدونکی بناغلی عزت الله خان د برکت الله خان زوی د یاد شوي کلي اوسېدونکی خپل وکیل تاکم او دی واک لري چې د کابل په چهاردهي کښې زمایو جریب د کرنې ور ځمکه چې ختیځ ته یې لویه ویاله ، لویدیځ ته یې لویه لار، شمال ته یې دمحمد امین د میرداد د زوی باغ او جنوب ته یې د حومات وقفي ځمکه ده، خرڅه او اخیستونکي ته شرعي سند ورکړي، هیله ده زما دا اقرار لیک او تصدیق زما له خوا د تاکل شوي وکیل سند وګڼل شي، په خپل دې اقرار کښې صادق یم او په داسې وخت کښې مې کړی چې عقل مې پرځای او په خپل مال کښې د شرعي تصرف کولو ور یم!

په درناوی

(لاسلیک)

صدیق الله د عتیق الله خان زوی

شاهدان:

احسان الله دمحمد عمر خان زوی (لاسلیک یاد ګوتې نخښه)

شیرمحمد دګل محمد خان زوی (لاسلیک یادګوتې نخښه)

﴿٥٦﴾

ضمانتليك

نيټه ۱۳۷۴/۹/۳

زه محمد يوسف د آدم خان زوی دکابل دنهمي ناحيې اوسيدونکی د همدې ناحيې داوسيدونکي بناغلي سيد محمد د کلاب شاه د زوی چې د پوليسو ترکومان لاندې راغلی دی، ضمانت کوم چې ددې شک د رفع کولو له پاره به د پوليس اداري ته په خپله حاضريږي نومورې دې خوشی کړل شي، که په وعده يې وفا ونه کړه. زه يې د سرضامن يم!

دا ضمانت ليک داعتبار اوعملي اجرا ور دی.

لاسليک

(محمديوسف)

شاهدان:

۱) نيک محمد ديار محمد زوی د پروان ښني اوسيدونکی
(لاسليک يا دګوتې نخښه)

۲) ګل محمد د زرجان زوی د پروان ښني اوسيدونکی
(لاسليک يا د ګوتې نخښه)

﴿۵۷﴾

د پور عرفي سند

نیټه: ۱۳۷۴/۱۲/۲۹

د جلال آباد بنار د کابل بازار د اوومې نومرې مغازې له خاوند بناغلي محمد رفیق خان سوداګرنه مې د دریو میاشتو په مخه دپنځه زره افغانیو بوره اوچای په پور واخیستل او دالیک دسند په توګه ورکړی شو، دسند دوخت ترپوره کېدو پورې به انشاءالله پورتنۍ ټولې روپۍ یو ځایي ور رسوم اوخپل سند به ترې اخلم!

په درناوي

(لاسلیک) نیک محمد

﴿۵۸﴾

حواله لیک

بناغلی پاینده خان! نیټه: ۱۳۷۵/۴/۴

څرنګه چې پرتاسو باندې شپږ زره افغانۍ پور لرم او د راکړې نیټه یې هم پوره شوې ده نو دا لیک مې د حوالې په توګه بناغلي زرغون خان ته ورکړ چې دا ټولې روپۍ نومورې ته ورکړې او دا لیک خپل سند وبولې!

په درناوی

(لاسلیک)

محمدآغا

د شرکت جوړول

۱- د آریانا ترانسپورټ شرکت، د ښاغلي علي محمد خان اوښاغلي زرجان په ګډه پانګه جوړشوی اوپه همدې نامه دتجارت په وزارت کښې رسماً ثبت شوی او نښان يې په رسمي جريده کښې خپور شوی دی.

۲- ددې شرکت لومړنۍ پانګه دوه مليونه(۲،۰۰۰،۰۰۰)افغاني ده چې دواړو خواؤ په مساوي ډول يو، يو مليون (۱،۰۰۰،۰۰۰)افغاني پکښې اچولې دي.

۳- د ترانسپورټ کارکوونکي بهٔ د ترانسپورټ له لايحې سره سم معاش اخلي ، داعطاء مقام د ترانسپورټ رئيس دی، کهٔ يو له شريکانو نه وغواړي چې د ترانسپورټ رئيس واوسي نو له واك او امتيازاتو دواړو نه يې استفاده کولای شي.

۴- د ترانسپورټ ګټه بهٔ د کال پهٔ پای کښې محاسبه کېږي او د شريکانو پهٔ خوښه بهٔ د ترانسپورټ پهٔ انکشافي چارو لګوله کېږي او يا بهٔ يې دواړه پهٔ مساوي ډول سره وېشي.

۵- دترانسپورټ د لغو کولو تصميم يو اړخيز نهٔ شي نيول

کېدای ، دواړه شریکان بۀ ګډ تصمیم نیسي.

٦- که یو شریك پۀ یواړخیز ډول دشرکت ړنګول وغواړي لږ ترلږه د پانګې څلورمه برخه زیان بۀ پرځان مني.

دواړې خواوې پر دې ټرون موافقه لري او یو-یو لاسلیك شوی نقل بۀ یې له ځان سره ساتي.

(لاسلیك)
علي محمد خان

(لاسلیك)
زرجان

د تجارتي وندې سند

نیټه: ۱۳۷۴/۴/۱۵

دا کاغذ د مېوې په سهامي شرکت کښې د ښاغلي عبدالرزاق د عبدالحلیم د زوی د برځمن کېدو د سند پۀ توګه اعتبار لري، نومورې پۀ پورتني شرکت کښې د اتیازره (۸۰۰۰۰) افغانیو پۀ ورکولو سره د یوې برخې خاوند دی.

دۀ چې د شرکت او تاکلیو مقرراتو سره سم د وندې اخیستلو ټول مراتب تر سره کړي، ددې پاڼې په درلودلو سره

شرکت د خپل عامل ملکري په حیث منلی او دا پانه ددۀ د قانوني سند په توګه اعتبار لري.

(لاسلیک)
عبدالرزاق

(لاسلیک)
(د شرکت رئیس)

﴿٦١﴾

اجاره لیک

نیټه: ۱۳۷۴/۱/۵

د محمد عمر د زوی عصمت الله د کابل ولایت د پغمان په اولسوالۍ کښې د یو جریب منې لرونکي باغ او د سرور خان د زوی محمد زمان خان اجاره دار تر منځ په دې موافقه وشوه چې نوموړی دغه باغ د سږني کال د لسدۍ تر پایه پورې په سل زره افغانۍ د اجارې په توګه ورکوي، د باغ د مېوې له تمامېدو سره به نوموړی پورتنی مبلغ یعنې سل زره افغانۍ د باغ خاوند (عصمت الله خان) ته ورکوي او باغ د اوبو له حقابې سره محمد زمان خان اجاره دار ته وسپارل شو. دا سند چې یو بل ته ورکړی شوی دی تر ټاکلې نیټې پورې د باور وړ دی.

(لاسلیک یا د ګوتې نخښه)
محمد عمر
(د باغ خاوند)

(لاسلیک یا د ګوتې نخښه)
سرور خان
(اجاره دار)

ترون ليك

د ثبت نومره: ۲۷۳

نېټه: ۱۳۷۴/۱۲/۱۵

د آسیاسافټ اداره له یوې خوا او ښاغلي وحیدالرحمن، کمپوزر، له بلې خوا ترون کوي چې:

۱- وحیدالرحمن به هره ورځ د سهار له اتو بجو څخه د ماښیګر تر څلورو بجو پورې حاضریږي.

۲- ورسپارل شوي کارونه به په ښه دول ترسره کوي.

۳- د دفتر د ټولو مقرراتو رعایت به کوي.

۴- آسیاسافټ به مقابلتاً د میاشتې (۴۰۰۰۰)افغانۍ معاش ورکوي.

۵- د خرڅې دودۍ او د تلې راتلې لګښت به ورکوي.

۶- که اداره وغواړي چې دا ترون فسخ کړي نو مکلفه ده چې یوه میاشت مخکښې نوموړي ته خبر ورکړي.

۷- کۀ ښاغلی وحیدالرحمن د ټرون فسخ کول وغواړي مکلف دی چې یوه میاشت مخکښې اداره له خپلې ارادې څخه خبره کړي.

۸- د خبر نه ورکولو پۀ صورت کښې بۀ دواړې خواوې د یوې - یوې میاشتې معاش برابر، تاوان ورکولو ته چمتو وي.

دا ټرون پۀ اتو مادو کښې شوی چې د دواړو اړخونو له خوا لاسلیك کېږي او دواړې خواوې بۀ یو - یو نقل له ځان سره ساتي.

(لاسلیك) (لاسلیك)

وحیدالرحمن ن.ر.لیوال (مهر)

(آسیاسافټ د اداري رئیس)

د پور شرعي سند

د ثبت نومره (۹۱۵)

نیټه: ۱۳۷۵/۱/۳۱

زۀ عبدالمالك د عبدالفتاح زوی، د کندهار ولایت د

ارغنداب د اولسوالۍ د کوزميوند د کلي اوسيدونکی صحيح او شرعي اقرار او اعتراف کوم پردې چې پنځه زره (۵۰۰۰)افغانۍ مې چې نيمايي يې دوه نيم زره (۲۵۰۰)افغانۍ کېږي له احسان الله د سين خان له زوی نه چې د همدې کلي او سيدونکی دی د ثابت او لازم الاداء پور په توګه احيستې چې نومورې پيسې به له خوښتې سره سمې بې له عذر او حيلې نه نومورې ته ورکوم په خپل اقرار کښې رښتين اوصادق يم!

پورتنی اقرار مقر (پورورې) په داسې حال کښې چې بشپړه روغتيا او د ټولو شرعي تصرفاتو واک لري د شرعي اهليت لرونکو شاهدانو په وړاندې وکړ او مقرله (پور ورکوونکي) چې شرعي اهليت لري دا اقرار د ځان له پاره ومانه!

(لاسليک يا د ګوتې نخښه) (لاسليک يا د ګوتې نخښه)

عبدالمالک (مقر) **احسان الله** (مقرله)

شاهدان:

۱- فقير محمد دسلطان محمد زوی (لاسليک ياد ګوتې نخښه)

۲- سردار خان دجانګل زوی (لاسليک يادګوتې نخښه)

شرعي قباله

د ثبت نومره (٩٥)
نېټه: ٧٥/٢/١١

زهٔ عبدالله خان د فیروزخان زوی، د غزني ولایت د قره باغ د اولسوالۍ د لوړ کلي اوسېدونکی صحیح او شرعي اقرار کوم چې خپله یو جریب ځمکه مې چې له پلارنه پهٔ میراثي ملکیت را پاتې ده او څلور خواوې یې پهٔ لاندې ډول دي:

ختیځ ته لویه لار، لویدیځ ته عمومي ویاله، شمال ته زما د ورور سید جمال پټی او جنوب لورته د محمد جان د زوی عزت الله ځمکه.

امان الله خان د نصرالله خان زوی ته چې د غزني ولایت د قره باغ اولسوالۍ د همدې لوړ کلي اوسېدونکی دی د شپېتو زرو (٦٠٠٠٠) افغانیو پهٔ بدل کښې چې نیمایي یې دېرش زره (٣٠٠٠٠) افغانۍ کېږي او د افغانستان د چلند وړ پیسې دي، پهٔ خپله خوښه او د بشپړې روغتیا پهٔ حالت کښې پهٔ جایزې بیه پلورلې چې له هغې نه د ګټې اوچتولو اجازه لري. نوموړي مشتري ټولې پورتنۍ پیسې له شرعي غوښتنو سره سم را رسولې او څهٔ پرې پاتې نهٔ دي،

نوره هیڅ راز دعوه نۀ پرې لرم او دا شرعي قباله ورکوم، پۀ خپل اقرار کښې صادق یم.

مقرله (مشتری) حاضر ؤ چې مقر(بایع) پورتنی اقرار وکړ او پۀ دې ترڅ کښې د شرعي عدالت پۀ شرایطو برابر شاهدان هم ناست وو.

(لاسلیك)
عبدالله خان (مقر)

(لاسلیك)
امان الله (مقرله)

شاهدان:

۱- شمس الحق دنورالحق زوی (لاسلیك)

۲- عین الدین د نورالله زوی (لاسلیك)

دواکمني محکمې
(د مفتي مهر)

د واکمني محکمې
(دقاضي مهر)

یاد ونه: پۀ بیع بات قباله کښې د پورتنیو جملو پر ځای لیکل کېږي:

"... پۀ خپله خوښه او د بشړې روغتیا پۀ حالت کښې مې په قطعي، جازمي، لازمي، بیع بات ډول چې نۀ فسخ کېږي او وفا بۀ پرې کوم، پلورلې؛ نومورې مشتري... ".

کاروباری
لیکونه

٦٥

د پکتیاد بوټ جوړولو د فابریکې،
د فرمایشونو محترم مدیر صاحب!

۷۵/۳/۲

السلام علیکم!

دا ېۀ مو ډېره مهرباني وي چې مورِ د راتلونکې پوستې پۀ ذریعه د هغوِ مالونو له اوسنیو بیو څخه خبر کړئ چې لست یې ـدې لیك پۀ ملتیا دراستول شوی دی، کۀ بیې مو مناسبې ولیدې نو بۀ پۀ نژدې وخت کښې یو دپام ورِ فرمایش درکړو!

پۀ درنښت

(لاسلیك)

داخلاص بوټ خرڅولو دمغازې مالك

٦٦

ځواب

بناغلی .....،
داخلاص بوټ خرڅولو دمغازې مالك،

۷۵/۳/۳

---

۹۵ کاروباري لیکونه

السلام علیکم!

ستاسو دغوښتنې سره سم مورِ د ټولو هغو مالونو بیه چې تاسو غوښتي دي دهغه دنوم مخې ته لیکلې ده، ورسره مو یې پرچون بیه هم چې ممکن تاسو ته واړه داړه وي درښودلې ده، باوري یم چې بیې بهٔ ډیر ژر لوړې شي نو تاسو ته د سمدستي فرمایش کولو ټینګار کوم!

پهٔ درناوي

(لاسلیك)

د پکتیا د بوټونو د شرکت رئیس

په دې رساله کښې له لاندنيو آثارو څخه په مستقيم او غير مستقيم ډول استفاده شوې ده:

۱. "کوتې قلم ته په ژړا شوې" - د حمزه بابا خطونه، د طاهر اپريدي تولونه، د حبيب الله رفيع سريزه، ۱۹۹۴، کراچی.

۲. "ليکنخښې" : م. ظ. ا.، د افغانستان د علومو اکيډيمي، ۱۳٦٦، کابل.

۳. "پښتو ليکونه": ليکونکی: عبدالمنان دردمند، د پښتو د تقويې او انکشاف رياست، ۱۳۵۱، کابل.

۴. "د انګليسي معلم" ژباړن: عصمت الله څاروان، کابل کتاب پلورنځی، ۱۳۷۱، پېښور.

۵. "مراسلات": دانش کتابخانه، پېښور.

٦. "آيين نګارش": د محمد جواد شريعت، ۱۳۷۰، تهران.

۷. "انشاء ونامه نګاری": رحمان دلفراقي، ۱۳۷۱، تهران.

۸. "نامه نويسي" انجمن تأليف و ترجمۀ کتابفروشي کابل، کابل کتابفروشي، ۱۳۷۰ پېښور.

۹. "د پښتو ليکلار د سيمينار پربکړې" سپېدې مجله، دوهمه دوره، دوهمه ګڼه (۱۳٦۹) زمری-وړی، پېښور.

۱۰. د ليکونکي ځاني آرشيف: زړې ملاطفې، ليکونه، بلن ليکونه خبرونې او نور...

PROPERTY OF ACKU 6090